مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۶ / ۱۰ / ۰۳

# د افغانستان پر ضد هوايي بريدونه

**د پاکستان د تدريجي سقوط دروازه پرانيزي**

په تېره یوه اوونی کې د پاکستان پوځ، د نړیوالو قوانینو له درناوي پرته او د ملګرو ملتونو د منشور د روحیې پر خلاف، دوه ځله په افغانستان کې ملکي کورونه د بمبارۍ هدف وګرځول. د دغو بریدونو په پایله کې، چې نړیوال حقوق يې جنګي جنايت بولي، زموږ یو شمېر هېوادوال شهیدان شول.

پاکستان د دغې بې‌پروا بمبارۍ لامل د خپل مشروع دفاع له حق څخه استفاده بولي او ادعا کوي چې افغان طالبان د پاکستاني طالبانو ( تی تی پی ) سره مرسته کوي، څو په پاکستان کې ناامني رامنځته کړي. د پاکستان دا ادعا د لاندې دلایلو له مخې د توجیه وړ نه ده :

- له داعش ( چې په پاکستان کې د ملاتړ او پیاوړتیا سرچینې لري ) پرته ، د طالبانو د پنځه کلنې واکمنۍ په موده کې ټولې اسلامي دلې، د افغانستان په اسلامي تحریک طالبان کې مدغم شوي دي. خپلواکه دله شتون نه لري. پاکستان په تېر کال کې د أفغانستان

په جنوبي سیمو کې د خپلو بمبارۍ پر مهال ونه توانېد چې د تي تي پي د مشرانو د وژل کېدو شواهد وړاندې کړي.

- افغان طالبان د نیمه پېړۍ جګړو له امله د رامنځته شویو ویجاړیو په بیا رغونه او جوړولو کې سخت بوخت دي. دا ناشونې ده چې هغوی خپل وخت، انرژي او مالي سرچینې له پاکستاني پوځ سره په یوې اوږدې او فرسایشي جګړه کې ولګوي.

- طالبان پوهېږي چې د کورنیو او بهرنیو جګړو له امله رامنځته شوی اوسنی افغان دولت لا تر اوسه د بهرني تېري پر وړاندې د کافي دفاعي ظرفيت خاوند نه دی. له همدې امله له یوه ګاونډي هېواد سره په جګړه کې ښکېلتیا هېڅ ګټوره پایله نه لري.

- اغزن سیم په عملي توګه د جنګیالیو د تګ راتګ مخه نیسي. یوازینی د استفادې وړ لاره چترال او واخان دي، چې په همدې وروستیو کې د پاکستان د پوځ په ملاتړ د طالبانو د حکومت مخالفینو ترې استفاده کړې وه. د طالبانو د حکومت مخالفین یا ووژل شول او یا ونیول شول. که له افغانستان څخه پاکستان ته د طالب جنګیالیو داخلېدل واقعاً حقیقت ولري، نو ولې د پاکستان د ادعا د اثبات لپاره د واخان په څېر سناریو بیا د پاکستان په کټه نه تکرارېږي؟

- هند له پاکستان سره ګډه پوله لري. دغه دوه هېوادونه د کراچۍ او ګوادر بندرونو له لارې سربېره د سمندر سره هم تړلي دي. دا احتمال شته چې پښتانه او بلوڅ آزادۍ غوښتونکي د پاکستان د پوځ پر ضد په خپلو عملیاتو کې د هند د استخباراتو له خوا تجهیز او اکمال شي. له همدې امله د پښتنو او بلوڅو آزادۍ غوښتونکو ته د افغانستان د طالبانو له خوا د لوژستیکي او اکمالاتي ملاتړ اړتیا نه پاتې کېږي.

له هغه څه چې پورته مو وویل، څرګندېږي چې د پښتنو او بلوڅو د آزادۍ غوښتونکو.

لوژستیکي او عملیاتي مرکزونه د پاکستان په داخل کې موقعیت لري

په همدې حال کې، پر افغانستان د پاکستان د پوځي تېري انګېزې په لاندې ډول بیانېدای شي :

- پاکستان په دې پوهېږي چې د هند استخبارات د پښتنو او بلوڅو د آزادۍ غوښتونکو ملاتړ کوي. دغه ملاتړ په نیغه کېږي نه د افغانستان له کانال څخه. خو پاکستان له هند سره له مستقیمې مقابلې نه ډډه کوي او افغانستان د یوه اسانه، کم لګښته او بې‌خوابه جنګي هدف په توګه تر برید لاندې راولي.

- د پاکستان د عامه ذهنیت اړول، څو د امنیتي بې‌ثباتۍ او اقتصادي فشارونو پر ځای د «مشروع دفاع» په نوم له بهرني تېري سره جګړه د بحث موضوع وګرځول شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ د پاکستان د عامه افکارو په ذهن کې د هغو ناامنیو په وړاندې د پاکستان د ځواب لپاره د ځان د برائت برابرول چې سرچینه یې افغانستان ګڼل کیږي.
ـ پاکستان د استعمار زیږنده د افغانستان په وړاندې د یوه لرغوني هېواد په حیث چې په تاریخ کې ژورې ریښې لري او تازه د «امپراتوریو هدیرې» لقب ورته ورکړل شوی، د حقارت عقده لري. بی باکه بریدونه چې په کې ملکیان په نښه کیږی د حقارت د عقدې تسکینولو په معنا تعبیرولي شو.
ـ له مکې د تړون څخه د راولاړې شوې ژمنې څخه تېښته. د دغه تړون له مخې پاکستان باید د یمن د حوثیانو پر وړاندې د سعودي عربستان په دفاع کې په جګړه کې برخه واخلي. له افغانستان سره جګړه د پاکستان پوځ ته د مکې له ژمنې څخه د تېښتې لپاره یوه ښه پلمه برابروي.
د طالبانو له خوا د پاکستان د تېریو پر وړاندې د ځواب نه ورکول تر یوه حده د توجیه وړ دي، ځکه :
ـ د افغان طالبانو سره د خپلې پخوانۍ عقیدوي او جنګي اړیکې له امله د پاکستان د تېریو ځواب په اتومات ډول، د افغان طالبانو له مداخلې پرته، تی تي پي ورکوي.
ـ له پاکستان سره په جګړه کې داخلېدل افغانستان ته د پاکستان لپاره د مکې له تړون څخه د تېښتې لاره پرانیستلی شي.
ـ افغانستان له پاکستان سره په یوه کلاسیکه جګړه کې د مقابلې توان نه لري؛ خو د پاکستان پر وړاندې په نیابتي جګړه کې برلاسی لري.
د محمود هوتکي، احمدشاه دراني او زمانشاه د اولادونو لپاره دا دردونکې ده چې د بېلابېلو سیاسي، امنیتي او جیوپولیټیکي ملاحظاتو له امله نه شي کولای د دښمن د څپېړه ځواب په سوک ورکړي. خو واقعیت دا دی چې د دښمن برید د پراختیا غوښتنې له انګېزې نه، بلکې د کمزورۍ او بېوسۍ له امله دی:
پوځ په داخل کې «ماشالا» حکومت، د واتونو په اوږدو کې د کانتینرونو په ځای پر ځای کولو سره د عمران خان د تحریک انصاف د یرغل پر وړاندې ساتلی دی. په بهر کې له خپلو ګاونډیانو سره په ښکاره یا پټه جګړه کې دی. پر دې ټولو پوځي بوختیاوو سربېره، د یمن حوثیان هم د پاکستاني سرتېرو د جګړې ډګر ته د داخلېدو په تمه، ګوتې پر ماشه ناست دي.
په دې ګډوډ حالت کې د پاکستان تدریجي سقوط محتمل دی؛ په دې شرط چې د پاکستان پر وړاندې د بهرني فشار دوه سرچینې، یعنې افغانستان او هند، په ستراتېژیکه همغږۍ وضعیت تر څار لاندې ولري. سربېره پر دې، باید له سیمې څخه بهر ستر قدرتونه د سقوط څخه په ترلاسه کېدونکو ګټو کې شریک وګرځول شي.
بله مهمه خبره دا ده چې په افغانستان کې اوسنی حکومت، په داسې حال کې چې د جهاد وسله ( چې د استفادې اصلي لوری به یې پاکستان وي ) له ځان سره ساتي، باید هڅه وکړي چې له دیپلوماتیک انزوا څخه ووځي او د افغانستان د خلکو او نړیوالې ټولنې مشروع غوښتنې ومني. په ځانګړې توګه د داخلي مشروعیت د ترلاسه کولو لارې چارې ولټوي.
د وسلو پلورلو په موخه ښکېل هېوادونه یوازې له یوه مشروع حکومت سره معاملې ته داخلیږي. افغانستان یوازې د خپل دفاعي ظرفیت په پیاوړي کولو سره کولای شي د بهرني تېري د تکرار مخه ونیسي.
**په لنډه ! یو پیاوړی افغانستان کولای شي د پاکستان د تدریجي سقوط دروازه پرانیزي. « پای »**



آرشیف: مطالب نشر شدهٔ دوکتور محمد عثمان تره کی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ